مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

ولي الله ملکزی

۲۰۱۹/۰۷/۰۱

# د اولاد په روزنه کې د میندو او پلرونو نهه تیروتنې

د الجزیرې نړیوالي ټلویزیوني شبکې د اولاد په روزنه او پالنه کې د میندو او پلرونو د نهو غټو تیروتنو په اړه یوه علمي او اکاډمیکه څېړنه خپره کړې چې لیکواله یې میرمن مادلین المشارقه ده. دا چې څېړنه ډیره په زړه پورې او د ګڼ شمیر سروې ګانو او احصائیو پر بنسټ ولاړه ده، نو ومې پتیل چې ستاسو درنو لوستونکو چوپړ ته یې وړاندې کړم. البته باید یادونه وکړم چې دا ټکي په ټکي ژباړه نده، بلکې له دغې لیکنې څخه مې الهام اخیستی او د یو پلار په صفت زما خپله نیمګړې تجربه هم ورسره شریکه ده.
نصیحت، مشوره، نازول، هڅول، امر کول او منع کول هغه میراثي او فلکولوریک سیستم دی چې تقریبا هر مور او پلار یې په هره ټولنه، هر وخت او هر ځای کې د خپلو اولادونو د روزنې او پالنې پخاطر تر سره کوي. دا چې مور او پلار د خپلو بچیانو په سترګو کې اتلان، له هر چا ځواکمن او د غم او ډار په مهال د پناه ځایونه ګڼل کیږي، نو د دوئ هرعمل او چلند د هغوئ په ژوند او برخلیک کې ستر رول لوبوي. په زړونو او ذهنونو کې یې انځور پریږدي او د کور د انګړ دننه او د باندې د مور او پلار هر تولنیز سلوک د کوچنیانو ورځنی ژوند او چاپیریال د خپل وزر لاندې نیسي او له هغه څخه رنګ اخلي.
ډیر کله لیدل شوي چې دوه تنه ناروغه کسان چې یو ډول ناروغي لري، یو متخصص ډاکټر ته ورځي او هغه د خپلې تجربې له مخې دواړو ته یو شان نسخه لیکي، خو بیا یو مریض ډیر ژر ښه کیږي او په هغه بل باندې هیڅ کرښه نه کاري. همدغه ډول د میندو او پلرونو یو ډول مشوره د هغوئ په ټولو اولادونو باندې ورته اغیز نکوي، بلکې د تاثیر کچه یې یو له بله جلا وي. ځرنګه چې د انسانانو فطري جوړښت، غریزې، احساسات، ذهني او روحي ظرفیتونه یو شانته ندي، نو له همدی امله اکثره میندې او پلرونه کله په شعوري او کله په غیر شعوري توګه د یو رنګه پایلو د درلودلو تمه کوي چې له بده مرغه ډیر کله یې پایلې ویجاړونکې او دردونکې وي. دغه غلطی پدی ډول دي:

۱ - خپل اولادونه دیته نه هڅوي چې نوښت وکړي، پخپله تصمیم ونیسي او د مشروعې خپلواکۍ په چوکاټ کې، خپل شخصیت ته وده او تبارز ورکړی. تشویق او معنوي ملاتړ هغه څه دي چې د ماشومانو او په ځانګړې ډول د تنکیو ځوانانو او پیغلکیو په فکر او ذهن کې انکشاف را منځته کوي، پخپل ځان یې باور زیاتوي او ویسا یې ځواک مومي. مور او پلار باید پریږدي چې بچیان یې د خپل کوچنیتوب او معصومیت پدی کوچني او تنګ ماحول کې د خپلې خوښې وړې فیصلې پخپله وکړي او د هغوئ په هر څه کې بی ضرورته مداخلت ونکړي.

۲ - د اولادونو رټل، د خلکو په وړاندې د هغوئ توهینول، له هغوئ سره په لوړ او تند غږ خبرې کول او د هغوئ په وړاندې چیغې او کریکې وهل، ډیرې ناوړه پایلې لري. په ۲۰۱۳ م کال کې د پیټس برګ په پوهنتون کې یوه سروې او څېړنه په ګوته کوي چې دغه ډول چلند د ماشومانو د روحي نارامۍ او ژور خپګان لامل ګرځي او ددی په ځای چې اولاد با تربیه شي، د بی ادبی خوا ته یې بیایي.

۳ - د چورلکي روزنه سرچپه نتیجې لري. په ۱۹۶۹م کال کې ډاکټر هایم جنیوټ یوه څېړنه ترسره کړه او هغې ته یې د هیلوکوپټر د روزنې نوم ورکړ چې بیا یې نړیوال شهرت وموند. ددې اصطلاح مطلب دادی چې مور او پلار باید د څرخي الوتکې په څیر هر ځای خپل اولادونه تعقیب نکړي، د هرې وړې او زړې محاسبه ورسره ونکړي، بلکې هغوئ ته دی روحیه او احساس ورکړل شي چې دوئ قابلیت او وړتیا لري او خپلې چارې پخپله پرمخ بیولای شي. د یو امریکایي پوهنتون په دری سوو محصلینو کې د هغو شاګردانو نمرې ډیرې عالي او اندیښنې یې ډیرې کمې وې چې پخپله خوښه یې مضامین غوره کړي او پخپله یې پریکړې کړې وې او میندو او پلرونو یې وربانده خپل نظرونه نه وو تپلي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

۴ - د خوب او ویده کیدو پریکړه باید کوچنیانو ته پرینښودل شي، پکار ده چي هغه کنټرول او مهال ویش ورته وټاکل شي. یوه پیرنګی څیړونکې، ایون کیلي کاږي: موږ ټول پوهیږو چي خوب د یو کوچني په ودې، روغتیا او ذهني پرمختیا کې څومره ستره ونډه لري، نو ځکه میندې او پلرونه باید دی ټکي ته ډیره جدي پاملرنه وکړي تر څو ماشومان یی ناانډوله او ګډوډ خوب ونکړي، کوم چي له نورو سره په برخورد او هم په ټولنه کې د ماشوم پر احساس ناوړه لنګر پرې باسي.

۵ - په تنکي عمر او کوچنیتوب کې د ټلویزیون پردې ته ډیر کتل سختي بدې پایلي لري. یوه څیړنه څرګندوي هغه ماشومان چي عمرونه یی له درې کلونو کم او د ټلویزیون او ټلیفون پردې ته ډیر ګوري، هغوئ بیا د ژبې د زده کړې او خبرو کولو له ستونزې مخ کیږي. کله چي لږ غټ شي نو له خلکو سره د خبرو په ځای ګوښه توب او چوپتیا خوښوي، ذهن یی پوره او پخپل وخت وده نکوي، حافظه یی کمزورې کیږي او چي نور غټ شي بیا له همصنفانو او ملګرو سره په پیل کې د شرم او خجالت احساس ورته پیدا کیږي.

۶ - د اولادونو له حده زیات او بی ضرورته نازول، همدومره تاوان لري لکه څومره چي قهرجني میندې او غصه ناک پلرونه خپل اولادونه په لوی لاس بی زړه کوي او شخصیت ته یی تاوان رسوي. البته په هرڅه کې بی پروایي او لاوبالي هم ښه انجام نلري. ناز نخرې او غصه دواړه باید د توازن او اعتدال له چوکاټ څخه پښه د باندې نکړي.

۷ - د خپلو اولادونو او کوچنیانو سره د خبرو او ناستي په مهال، له ټلیفون، فیسبوک او ټویټر سره ډیر مشغولیدل، ښه نښه نده. په ۲۰۱۶ کال کې د امریکا معتبرې ورځپاڼي، وال ستریټ ژورنال ولیکل چي پدغه کال کې د روغتونونو بیړنیو ( ایمرجنسي) څانګو ته چي کوم کوچنیان ورووړل شوي وو، اکثره یی له هغو حالاتو سره اړه درلوده چي پلرونه یا میندې یی له هوښیارو ټلیفونونو او ټولنیزو رسنیو سره بوخت او له اولادونو څخه بې پروا وو.

۸ - له اولادونو سره سوړ چلند او له هغوئ څخه لرې او یا ځانته اوسیدل، بل هغه منفي لامل دی چي کوچنیان د ډار، بی امنی، انزوا او د کمزورې احساس خوا ته بیایي. ښکاره ده چي حیوانات هم له خپلو بچیانو سره مینه او عاطفه لري، د هغوئ په دفاع او ساتنه کې حتی خپل ژوند له لاسه ورکوي، کوم چي یوه فطري او الهي غریزه ده. خو په انساني ټولنه کې د دفاع ترڅنګ د تربیې، پالنې، پوهې، معرفت، صحت، ژوند او ښې راتلونکې خبره مطرح ده. د ۱۹۸۶ کال یوه پراخه سروې څرګندوي د ښوونځیو هغه ماشومان چي د پلرونو له شابسي، هڅوني او فکري ملاتړ څخه برخمن نه وو، پایلې یی کمزورې او په ټولنه کې یی احساس ټکنی وو.

۹ - د ماشومانو وهل او ټکول، ډیرې بدې او زښته ناوړه اغیزې لري. د ورستیو رواني او ساینسي څیړنو او د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د زرګونو ماشومانو سره د مرکو او سروې ګانو له مخې، د پښتو دا متل چي ( چیرته ډب نه وي، هلته ادب نه وي) له سالمي روزنې سره چندان اړخ نه لګوي. ډیر کله ځیني میندې او پلرونه فکر کوي چي د مخ په ځای د خپل کوچني د شا، څټ او کوناټې وهل کومه غټه خبره نده. ولی د امریکا د ټکساس پوهنتون لخوا د زرګونو ماشومانو سره د خبرو او سروې ګانو پایلې ښایي چي د بدن په یادو ځایونو کې د ماشومانو وهل د هغوئ د ذکاوت چي په انګریزي کې ورته (آي کیو) ویل کیږي په پنځه کلنۍ کې پنځه سلنه راټیټوي او دغه رنګه کوچنیان له خپلو همصنفانو او ملګرو سره د تشدد او سرزورۍ چلند ته مخه کوي.

تمه ده چي زموږ په بیچاره، له تعلیمه محرومي او جنګ ځپلي ټولنه کې به میندې او پلرونه د خپلو ګړاوونو او غمیزو زور له خپلو بچیانو او لمسیانو څخه نه باسي او تر ممکنه بریده به هڅه کوي چي د دغو نهو غلطیو څخه ځان وژغوري. ځکه د نن ورځې دغه تنکي او ګلالي ماشومان او ماشوماني ددی هیواد د سبا ورځې مشران، واکمنان او وارثان دي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنېزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ